زمری محقق

# « د پښتو او دري د ليکلاري سمون او يو والي »

**په دې وروستيو وختونو کی په افغانی رسنيو کی د پښتو او دری د ليکلار په هکله د سيمنار د جوړيدو سره سم ، بيلا بيل اندونه او مناقشې ، پيل سوي دي .**

**دغه سيمنار اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ژبو عالي شورا کمېسيون** له خوا ، **د** ملي موزيم په تالار کی **د ۱۴۰۵ هـ.ش د وږي په لومړی نېټه (۲۳ اګست ۲۰۲۶)** په کابل کې د «**د پښتو او دري ژبو ليکلار د سمون او يووالي**» تر عنوان لاندې جوړ سوی وو .

**په دا ډول سيمنارونو کی چې پخوا هم په بيلا بيلو وختونو کی جوړ سوی دي عموماً په لاندنيو مسائلو بحث کيږي :**

د پښتو او دري د **سمې املا او ليکدود** ټاکل؛

**د کلمو د ليکلو د بېلابېلو بڼو ترمنځ د مناسبې بڼې غوره کول**

**د نښانو، فاصلو، مرکبو کلمو او عربي/فارسي تورو د کارونې اصول**

**په رسمي، علمي او ادبي ليکنو کې د يو شان ليکلارې رامنځته کول**

**د ژبو د تدريس، خپرونو او اداري اسنادو لپاره د معياري ليکدود وړانديز کول**

په دغه غونډه کی **پوهاند اجمل ښکلي** او **استاد محمدمعصوم هوتک** (نا بلل سوی ميلمه ) په ګډون ، د **کابل پوهنتون، علومو اکاډمی، پوهنې او لوړو زدکړو وزارتونو** استازو، ژبپوهانو، استادانو، څېړونکو، ليکوالانو او خبريالانو ګډون کړی وو ..

شک نسته چې د افغانستان د ژبو د ليکلار د سمون بحث له شلمې پېړی راهيسې په بېلابېلو علمي او فرهنګي مرکزونو کې روان و او د **پښتو ټولنې/پښتو څېړنو، د علومو اکاډمی او نورو علمي بنسټونو** په کچه پرې غونډې او بحثونه شوي دي. خو له بده مرغه لا تراوسه په تيره بيا د پښتو ژبی د ليکدود ، بيلا بيلو لهجو ، د (ی) ګانو مسئله، همزې، «ه/ۀ»، عربي تورو ... په هکله د ټولو خواوو د قناعت وړ پريکړی نه دی سوی .

## د دې پروسې تاريخي شالید :

کله چی پښتو ټولنه د غازی امان الله خان د پاچهی په زمانه کی منځ ته راغله په »
هغه وخت کی ( پښتو مرکه) وه دغه پښتو مرکه د د اعلیحضرت نار خان په وخت
کی د (پښتو انجمن ) په نامه واوښته او وروسته بیا د پښتو ټولني په نامه یاده سوه .»
(۲)

په دغه ټولنه کی د هري سیمی پوهان سره را ټول سوی او د پښتو د لیکدود د یووالی او سمون په هکله یې پریکړی کولې . دوی نه یوازی د (ي) ګانو په هکله بلکې د نورو کلمو او ګرامری قاعدو په اړه هم یولړ فیصلی کړی دی .

څرنګه چی د نن ورځی دغه کنفرانس ( **د پښتو او دري د لیکلار ي سمون او یو والي** ) هم له همدې امله جوړ سوی دئ چی پر دغو پخوانیو فیصلو باندي چی یا چا ته نه دي رسیدلي او یا هم ټولو ته د قناعت او منلو وړ نه دي ، نوی کتنه وکړی.

**زما هیله دا ده کله چی که یو ځل بیا د پښتو ژبی د لیکدود په اړه غونډي او پریکړی کیږی، نو باید د تیرو وختونو د پښتو ټولني ، پښتو انجمن او همداراز د باړه ګلي د کنفرانس ، پریکړی او څرګندونو ته هم جدي پاملرنه وسئ .**

**د بلی خوا دا پریکړی هم په داسی عادلانه او د ژبنی معیارونو او پرنسیبونو سره سم تر سره شئ چی د جنوب لویدیځی د پراخي سیمي ( د غزنی څځه تر هراته ، د هراته څځه تر میمنی ، قندوز او حتا کوتي ، پوری) د افغانستان د ګوآټ ګوټ سیمو د پښتنو د قناعت وړ وګرځي .**

**له همدی امله غواړم چی په لنډه توګه دغو پخوانیو کنفرانسونو او غونډو ته ، ستاسو پام راواړوم .**

## (د پښتو ټولنی د لومړی فیصله) :

پښتو ټولني نه یوازي د (ي) ګانو په هکله بلکی د نورو کلمو او ګرامری قاعدو په باب یې هم ځانګړي پریکړي کړئ دي .

موږ وینو چی د بیلګي په توګه  مرحوم ګل پاچا الفت په خپل کتاب ( لیکوالي ) کی د دې ټولني فیصلې په تفصیل سره لیکلی دي ....

خو تر ټولو مهمه خبره لا دا ده چی دا ډول منل سوي پریکړي باید د مطبوعاتو ، هنر مندانو ، لیکوالانو او نورو اړوندو څانګو پوری ورسیږی څو چی هغه فیصله سوی بڼی په عمل کی په خپلو ویلو او لیکلو کی په کار واچوی .

د موضوع د لنډیز په خاطر به د پښتو ژبي د لیکدود د یوالی او سمون د نور اړخونو د څیړلو څخه ډډه کوم . یوازی بهد پښتو ټولنی لومړی فیصله کټ مټ په هغه لیکلی بڼه ستاسو سره شریکي کړم .

د پښتو د لیکدود په اړه غونډه چی په ۱۳۲۱ش کال په کابل کی جوړه سول، د افغانستان پنځه ویشت تنو لاندنیو کسانو برخه اخیستی او لاندنی پریکړي یې کړی دی :

**ګډونوال** : ښاغلی ګل پاچا الفت ، صدیق الله رشتین ، قیام الدین خادم ، عبدالغنی خان ، محمد رسول خان ،( د عیانو ) عمړی محمد رقیق خان قانع ، عبدالخالق واسعی ، عبدلرحمان پژواک ، عتدلروؤف بی نوا ، مولانا عزیز الرحمان سیفی ، عبدالله خان افغان ، غلام جسن صافی ،  صوفی عبدالحمید ( د مجلس ریس )  محمد عظم عیازی ....

۱

الف: د ۱۳۲۱ شمسي کال د جوزا پر ۲۱ (۱۹۴۲ ع کال د جون ۱۱) په کابل کښې د پښتو ټولنې په غوښتنه د افغانستان د (۲۵) تنو لیکوالو ترمنځ مجلس وشو (۱) په دې مجلس کښې پر (۲۱) اختلافي موادو باندې په اتفاق تصویب وشو چه د تصویب صورتونه ئې دا دی د (لومړنۍ فیصلې) په نامه ورباندې کوو.

۱- بعضی از نویسندگان که در صفت جمع مذکر مثل (ټول هلکان)، (ټول خلق) (ټوله هلکان) (ټوله خلق) می نویسند حتمی است که در اینچنین موارد (ټول) نگاشته شود (و ټوله هلکان) نویسیم وهمچنین صفت جمع مونث مثل (ټولې طیارې) نباید (ټوله طیارې) بنویسیم زیرا که در اینچنین موارد حتمی است که بعوض (ټوله) (ټولې) نگاشته شود.

۲- در عوض (شونډې) که جمع مؤنث (شونډه) است هیچگاه شونډان ننویسند.

۳- در بین (کښېناست) و (کښېنوست) یک صورت یعنی (کښېناست) مختار است صورت دیگر آن در تحریر و نگارش متروک است.

۴- پاته (پاتې) درین دو صورت صورت اول یعنی (پاته) مختار است.

۵- (دای) این کلمه در جائیکه برای تمنا استعمال می شود باید با الف نوشته شود.

۶- کلمات (لویه) و (تویه) در مقابل (لوی) و (توی) مرجح است لذا نباید صورت های ثانی یعنی (لوی) و (توی) را در تحریر منظور رسمی بدهیم، صرف در صورت ضرورت شعری میتوان (لوی) و (توی) را استعمال نمود.

---

(۱) د دې مجلس غړي: ښاغلی گل پاچا الفت، صدیق الله رشتین، قیام الدین خادم، عبدالغني خان، محمد رسول خان دا عیانو عضو، محمد رفیق خان قانع، عبدالخالق واسعي، عبدالرحمن پژواک، عبدالرؤف بینوا، مولانا عزیز الرحمن سیفي، عبدالله خان افغاني نویس، سراج الدین سعید، غلام حسن صافي، امین الله زمریالی، غلام جیلانی جلالی، صوفي عبدالحمید خان (د مجلس رئیس)، میا اورا دالدین، میرزا محمد اعظم ایازي.

۷ - صیغه واحد مذکر افعال ماضی که بچند صورت نوشته می شود مثل (ولید) (ولیده) (ولیدی) وغیره همین یک صورت یعنی (ولید) و امثال آن مرجح است صورتهای دیگر آن در تحریر وکتابت متروک قرار داده شده • مگر اینقدر است که در آخر این صیغه در بعضی مصادر افزوده نمودن (ها) ضروری است مثل (وتاه) و امثال آن : -

۸ - کلماتیکه با حرف علت نوشته می شود مثل (میرونه) نسبت به صورت دیگری که بدون حرف علت یعنی (میرمنه) نوشته می شود صورت اول آن مرجح است به استثنای کلمه (لخ) که نسبت به کلمه (لوخ) در مجلس مستثنا قرار یافته .

۹ - کلمات ذیل (وشو) (شوی) (شته) (شي) و امثال آن که برخی آن را (وسو، سوی، سته، سي) مینویسند باید بهمین یک صورت یعنی به شین نوشته شود .

۱۰ - بعضی از نویسندگان که کلمات (بنه) و (لبز) را با موصوف مذکر و مؤنث مفرد و جمع یکسان استعمال مینمایند یعنی (بنه جری) (لبزه وده) (لبزا وبه) مینویسند باید فرق تذکیر و تانیث جمع و مفرد را مراعات نمایند یعنی (بنې جرې) (لږ ډوډۍ) (لږ اوبه) بنویسند .

۱۱ - برخی از نویسندگان که بعوض (ۍ) و (ئ)، (ای) و (یې) می نویسند هر دو صورت آزاد و روا است .

۱۲ - (غز) و (ږغ) که تحریر و نگارش بدو صورت دیده میشود هر دو صورت آن درست است .

۱۳ - کلمات (ځینی) و (ځینې) که اول آن بمعنی (بعضی) و دوم بمعنی (راز) است باید هر یک از آن در موقع خود استعمال شود و یکی با دیگری مختلط نشود .

۱۴ - (چلوونکی) (کوونکی) (سوونکی) و امثال آن باید به دو واو نوشته شود .

۱۵ - در آخر کلمه (کښې) باید یک (یای مجهول) افزوده شود و اینچنین (کښې) نگاشته شود .

۱۶ - اینچنین جملات (احمد تر نگی لری لار بری نه دینی) نه باید (لا ربه نه دینی) نوشته شود زیرا اینچنین حذف و تخفیف به اساس زبان نقص وارد میکند .

۱۷ - بعضی از نویسندگان که عوض (دی) (دویله) مینویسند باید (دویله) در موضع مخصوص آن استعمال شود یعنی در مثلاً (د وحد ویله) چنانکه لښکرخه جوړیږی دویله، متروک بدانند البته درین فقره درست است: "دا حد ښنده دیله"

۱۸ در ماضی مصدر تلل باید (لاړ) نوشته شود (لاړو) بدون واو متروک شناخته شود.

۱۹ درمقابل (دوکی) (کی) (دوکی)، کلمات ذیل (دوګړی)، (دکړ)، (دوګړ) مرجح و تثبیت شد که باید در تحریر و نگارش از آن تخلف نشود.

۲۰ - (هونبز) با نون نوشته شود.

۲۱ - (زه) (زما) (زهونبز) باید به (ز) هوز نوشته شود.

مواد فوق بتاریخ (۲۰) جوزا ۱۴۲۱ در مجلس منتخبه از اعضای برجستهٔ پښتو ټولنه و فضلای برجستهٔ زبان پښتو تصویب گردید.

باید وویل سي چی د پښتو ټولني د لومړی فیصلې وروسته دری نوری فیصلی هم سوی دي د زیات تفصیل څخه یې ډده کوم خو دومره وایم چی د دې ټولني په دریمه غونده کی یو لړ پخوانۍ فیصلې تعدیل سوی دی :

**« ورسته بیا د دریمي غونډې په فیصله کښې لومړۍ فیصله داسې تعدیل شوه:**

**لومړۍ فیصله درېیمه فیصله ( تعدیل )**

**پاته.................. پاتې**

**مونږ (مونږ – موږ ) دواړه صورتونه**

**لږ .................. لوږ**

**ولاړ. ( ولاړ – لاړ ) دواړه صورتونه**

**و منل شول.**

**لږ.................. لوږ » (۴)**

د پښتو ټولنی تر فیصلو وروسته د دوهم کنفرانس چی د پښتو دلیکدود او نورو اړوندو موضوعاتو په هکله پریکړی په کی سوی دی د باره ګلی کنفرانس دئ :

## د سوات د باره ګلۍ کنفرانس :

د پښتو لیکدو د په هکله د پښتو ټولنې د درېمي فیصلې څخه ( ۳۲ ) کاله وروسته یو ځله بیا د دې شرایط برابر شول چې د پښتو د یو متحد لیکدود د را مینځ ته کولو لپاره عملي هلې ځلې وشي.
په دې لړ کښی د پېښور پوهنتون د پښتو ا کیډیمی په نوښت ( ابتکار ) او د صوبه سرحد د حکومت په سپار ښتنه د ۱۹۹۰ م کال د جولای د میاشتی له ( ۱۰ ) تر (۱۲) پورې د سوات په (( باړه ګلۍ )) کښی یو درې ورځنی سیمینار جوړ شو چې پکښې د پښتو نخوا له ګوټ کوټ څخه تقریًبا سلو تنو ادیبانو او ژبپو هانو ګډون کړی ؤ .
دې غونډې په خپلی لومړنۍ ناسته کی د کار شل کسیزه کمېټه و ټاکله چې پکښې دغه ښاغلي شامل وو :

**پروفیسر سید محمد تقویم الحق کاکا خیل (۲) پروفیسر جهانزیب نیاز (۳) پروفیسر نصیرالدین (٤) حبیب الله رفیع ( ٥ ) منتظر بیټنی (٦) عبدالکریم بریالی (۷) همېش خلیل (۸) ډاکتر محمد**

**اعظم اعظم (۹) ډاکټر خالد خان خټک (۱۰) محمد پرویش شاهین (۱۱) پروفیسر محمد افضل رضا (۱۲) پروفیسر خوجه محمد سائل (۱۳) نورشاه جهان انور (۱٤) ډاکتر وردک ( اعزازي غړی ) ( ۱۵) سیال کاکړ ( ۱٦ ) سید احمد مومند (۱۷) ډاکتر محمد اقبال نسیم خټک (۱۸)ډاکتر محمد اسرار ( ۱ عزازی غړی ) (۱۹) خیبر افریدی (۲۰) پروفیسر یار محمد مغموم.**

**خپلی وروستئ پرېکړې ئې په اتفاق ارا ، داسې صادرې کړې:**

1. هغه کلمې چې د عربئ او فارسئ نه پښتو ته راغلې دي او معنا يې هم هغه ساتلې ده هغه به پخپل اصل شکل کښې ليکلی شي، لکه قصه، قميص ، ضعيف. او هغه کلمات چې پښتو خپل کړي دي، معنا يا شکل يې بدل شوي دي ، هغه به په پښتو کښې په اوښتي شکل ليکلی کيږي، لکه تپوس ، پام . او د عربئ مخصوص ټکي به د پښتو په کلماتو کښې نه ليکو – مثلاً: (( تورخم )) به په (( ت )) ليکو په (( ط )) به يې نه ليکو.
2. (( ڼ )) به د يو توري په شکل کښې د پښتو په ا – ب –ت ، يعنې حروف تهجي کښې د (( ن )) نه وروستو ليکلی شي او نوم به يې (( نوڼ )) وي.
3. هغه کلمې چې په اخره کښې ( زور )) لري هغه به په ( ه ) ليکلی شي لکه : خوشحاله ( مذکر ) خوشحاله ( مونث ) او دغه ( ه ) به د تانيث مخصوص علامت نشي ګڼلی.
4. (( مد )) په پښتو کښې نشته. ( ښاغلي رفيع داخبره پر زياته کړې ده چې " البته د نورو ژبو په کليمو کښې به په دخيل ډول له لومړئ پرېکړې سره سم ليکل کيږي".)
5. مجهوله (( ی )) چې په قطبی پښتو نخوا کښې پرته ليکل کيږي، هغه په همداسې پرته ليکلی شي، لکه: سړی وغيره ، البته په أفغانستان او سويلي پښتو نخوا کښې به د دوی د خپل ليکدود سره سمه د مخکښې په شان ليکلی شي.
6. مخصوصه ( ی ) به د کلمې پهٔ مينځ کښې (( ېـ ) او اخر کښې (( ې )) ليکلی شي لکه سړې او بهٔ ، خبړ و غيره. مجهوله يعنې پرته (( ېـ )) غوندې ليکلی شي.
7. د معروفې (( ي )) لهٔ پاره به دوه څنګ پهٔ څنګ ټکي (( ي )) ليکلی شي، لکه سړي ، زمري وغيره.
8. ياى تانيث (( ئ )) به پهٔ اخر کښې د کش سره ليکلی شي لکه کرسئ ، جينئ وغيره.
9. د فعل د پاره به د مخکښې غوندې د (( ی )) د پاسه (( ء )) ليکو ، لکه : وخورئ ، وکړئ وغيره.
10. پهٔ ضميره متصل او (( ئي )) کښې به پهٔ (( ی )) باندې همزه ليکلی شي او مخصوصه ((ې )) ليکلی شي او يا به (( ی )) او مخصوصه (( ی )) ليکلی شي لکه پهٔ (( يئ )) کښې به يوه (( ی )) او پهٔ دويمه (( ی )) باندې همزه ليکلی شي.
11. پهٔ داسې ((ه )) کښې لکه زړهٔ – ښهٔ ، پهٔ کښې به د (( ه )) د پاسه (( ء ))وي په أفغانستان سويلي پښتو نخوا کښې به هم دغه رنګ ليکلی شي.
12. (( ګ )) به په کونډ ليکلی شي.
13. کښې ، کښېناستل، نخښه، بخښل او داسې نور ټکی به هم دغه رنګ ليکلی شي .

14. معدوله (( واو )) به د ټکونه نشي غورځولی، لکه : خولهٔ ، خوارهٔ ، ګوند ، غوندي وغيره.
15. هغه ټکي يا کلمې چې د عربی اوفارسي نه د (( پيش )) په حالت کښې راغلي دي په (( پيش ) به ليکلی شي يعنې پخپل رنګ کښې لکه ګل ، بلبل- هغه پښتو کلمې چې پيش لري هغه به په مجهوله (( واو )) ليکلی شي ، لکه : پوښتنه، مور اونور
16. معروف (( واو )) به د کلمونه نه غورځول کيږي او د پاسه به پيش ورکولی شي، لکه: نُور – سُور وغيره.
17. د پښتو مخصوص توري ځ-څ-ښ-ږ به همدغسې ليکلی شي.د کمېټې سفارش دی چې پښتو اکيډيمي دې د مرکزي او صوبايي حکومت په مدد داستادانو او طالب علمانو د پاره يو رهنما کتاب تيارکړي چې د دې ټکسو په استعمال کښې اشتباه ختمه شي. ( د فيصلی په پای کې (۲۰) کسيزې کمېټې د غړو لاسليکونه کړي دي .) *

**څرنګه چې زه په ژبپوهنه کې تخصص نه لرم ځکه نو د ژبې د معيارې ليکدود په هکله د تبصرې ښځه ډده کوم او دا کار د ژبپوهانو او د دې ځانګي صلاحيت لرونکو ته سپارم .**

**خو هيله مې دا ده چې اړوند پوهان دا کار پرته د سيميز او لهجوي تعصب څخه د استدلال او منطقو په بنسټ په داسې عادلانه توګه ترسره کړئ چې د هيواد د ګوټ ګوټ پښتنو د قناعت وړ وی**

**ومن الله توفيق**

**زمری محقق کوپن هاګن**

**۳/۹/۲۰۲۶**

## سرچيني :

**(۱) هوتک معصوم . تاند ويب سايت .**

**(۲) رسول زاده عبدالعلی د پښتو ژيي اوسنی ليکدود ۶۵ مخ .**

(2) Pashto Standard orthography and Bara Grali Decisions Pashto 4. feb: 2024

(3) Tand archive : Jan : 13 : 2016 مير زهير

www.af.dawatmedia24.com